شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٦٨٤ ګڼه / یکشنبه ۱۷ شعبان‌المعظم ۱٤٤٦ هـ.ق / د سلواغې ۲۸مه ۱٤۰۳ هـ.ش / ۱٦ فبروري ۲۰۲٥ میلادي

۱۷ شهروند افغان از زندان های کشورهای مختلف آزاد شدند

وزارت امور خارجه می‌گوید، در نتیجه تلاش‌های سفارت امارت اسلامی مقیم قاهره پایتخت مصر، ۱۷ شهروند افغان از زندان کشورهای مختلف آزاد شدند.

حافظ ضیاء احمد، سخنگوی وزارت امور خارجه دیروز با نشر خبرنامه‌ای از آزادی این زندانیان خبر داده است.

به گفته وزارت امور خارجه، این هفده شهروند افغان از زندان کشورهای مصر، مراکش، لیبیا، سودان و موریتانیا آزاد شده‌اند.

در خبرنامه آمده که زندانیان آزادشده افغان توسط شرکت هوایی آریانا به افغانستان منتقل شده‌اند.

وزارت امور خارجه افزوده که شهروندان افغان در نتیجه هماهنگی‌های سفارت افغانستان در قاهره در هماهنگی با کشورهای متذکره آزاد شده‌اند.

این در حالی است که در نتیجه تلاش نهادهای دیپلوماتیک امارت اسلامی مقیم پاکستان نیز هزاران شهروند کشور در بیش از سه سال گذشته از زندان این کشور آزاد و به افغانستان برگشته‌اند.

بازسازی مکان‌های تاریخی و باستانی از اولویت‌های وزارت اطلاعات و فرهنگ است



مولوی قدرت‌الله جمال، معین مالی و اداری و گردشگری وزارت اطلاعات و فرهنگ می‌گوید، بازسازی مکان‌های تاریخی و باستانی از اولویت‌های این وزارت است.

وزارت اطلاعات و فرهنگ این مطلب در خبرنامه‌ای به نقل از آقای جمال بیان کرده است.

به گفته این وزارت، آقای جمال در سفر به ولایت بغلان و در جریان دیدار از زیارت محدث بزرگ، امام قتیبه بن سعید بغلانی‌رح، گفته که برخی از مناطق فرهنگی، باستانی و تاریخی این ولایت با تهدید تخریب روبه‌رو اند. معین مالی و اداری و گردشگری وزارت اطلاعات و فرهنگ ... ص۳

دیو شمېر سټنډرډونو تخنیکي برخې وځېړل شوې

د سټنډرډ ملي ادارې په تخنیکي تالار کې د نفتي سټنډرډونو د جوړونې تخنیکي کمېټې غونډه کړې ده.

یاده اداره وایي، په دې غونډه کې د اوبو او رطوبت ضد قیر (اسفالت) ځانګړتیاوو سټنډرډ او د ډیزل تېلو سټنډرډونو تخنیکي ټکي څېړل شوي دي.

دغه اداره زیاتوي، د قیر (اسفالت) سټنډرډ چې د((REAPPROVED 2021 ASTM D449/D449M-03 نړیوال سټنډرډ پر بنسټ جوړ شوی، له علمي او تخنیکي ارزونو وروسته تأیید او نهایي شو.

د خبرپاڼې له مخې، د اوبو او رطوبت ضد قیر سټنډرډ په بنسټیزو او صنعتي پروژو کې خورا مهم رول لري او د هېواد له سوداګرۍ او اقتصاد سره مرسته کوي.

یاده دې شي، په دې غونډه کې د ملي سټنډرډونو او ودانیزو کودونو د جوړونې رییس مولوي محمد حنیف، د اړوند کمېټې رییس او د کمېټې نورو غړو ګډون کړی وو.



سفر هیئت مشترک ۹ نفری به هدایت والی بلخ به ازبیکستان



مقام‌های محلی ولایت بلخ می‌گویند، یک هیئت مشترک ۹ نفره به هدایت والی این ولایت در سفر رسمی وارد ازبیکستان شده است.

بربنیاد خبرنامه، در نتیجه نشست این هیئت با مقام‌های ازبیکستانی به یک‌هزار و ۵۰۰ لاری حامل کالاهای تاجران افغان که در این کشور متوقف شده بود، اجازه تردد داده شده است. همچنان این هیئت موفق شده تا ممانعت ایجادشده در بخش انتقال و فروش میوه خشک افغانستان در بازار مشترک افغان-اوزبیکستان را که پیش ... ص۳

په تېره میاشت کې د څه باندې ۱۶۲ میلیونو ډالرو په ارزښت صادرات شوي



د احصاییې او معلوماتو ملي اداره وایي، چې د تېرې مرغومي میاشتې په ترځ کې د هېواد په کچه د ۱۶۲.۲ میلیون ډالرو په ارزښت صادرات او د ۱۰۹۷.۲ میلیون ډالرو په ارزښت واردات شوي دي.

د یادې ادارې د معلوماتو له مخې، د روان کال په لینډۍ میاشت کې د هېواد د صادراتو ټول ارزښت ۱۹۰.۲ میلیون ډالرو ته رسېد، چې د تېرې مرغومي میاشتې د صادارتو ارزښت د لینډۍ میاشتې د صادراتو په پرتله ۲۸ میلیونه ډالره کموالي ښیي.

دې ادارې په خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي، چې په مرغومي میاشت کې تر ټولو ډېر صادرات ... ۳مخ

د غلام خان بندر له لارې ۴۵۰۰ ټنه وچه مېوه صادره شوې



د خوست ولایتي مسئولین وایي، په روان لمریز کال کې د غلام خان بندر له لارې د څه باندې ۱۱ میلیونه ډالرو په ارزښت ۴۵۰۰ ټنه وچه میوه صادره شوې ده. د مسئولینو په خبره په دغه مقدار وچه میوه کې، جلغوزي، پسته او بادامو په شمول ۱۷ ډوله میوه شامله ده.

ورته مهال په خوست کې ځینې سوداګر پر سوداګریزو توکو د تعرفو او مالیاتو لوړېدل او په ویزو اخیستو کې ځنډ جدي ستونزې یادوي. دوی وایي که ستونزو ته یې رسېدنه وشي سوداګري به لا زیاته وغوړېږي. ورته مهال بیا سیمه ییز مسئولین وایي، سوداګرو ته به اړینې اسانتیاوې برابرې کړې.

فیض آباد کې د یوه سړک د پخولو چارې پیل شوې



د فیض اباد ښاروالۍ مسوولین وایي، چې په دغه ښار کې د ۵ میلیونه ۲۰۰ زره افغانیو په لګښت د یوه سړک د پخولو چارې ... ۳مخ

تعلیم او اسلامي عقیده؛ د فکري او تمدني ځواک لپاره د تعلیمي نظام اهمیت

۲مخ

سخنان گرانقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله و توصیه‌های طلایی ایشان

٤مخ

سرمقاله



اظهاراتی که هیچ گاهی جا نخواهد افتاد

بعد شکست ننگین رژیم خون آشام اسرائیل از نوار غزه وتوافق آتش بس میان جنبش آزادی بخش حماس ورژیم تل آبیب ، رژیم صهیونیستی و حامیان آن با طرح توطئه جدیدی متوسل شده که این طرح وجدان انسان های بیدارونظام های مستقل جهانی را مضطرب ساخته است.

بعد از سفر اخیر نخست وزیر رژیم صهیونیستی به امریکا و ملاقات وی با دونالد ترامپ رئیس جمهوراین کشور، ترامپ درکنفرانس خبری با بی شرمی تمام ازطرح توطئه جدید خود نسبت به ساکنان غزه پرده برداشت وتأکید نموده که اضافه از دومیلیون فلسطینی ساکن غزه باید به طوردایمی از این منطقه به خارج منتقل شوند تا امریکا بتواند مالکیت غزه را برعهده بگیرد وآن را تبدیل به منطقه ساحلی تفریحی کند، همچنان وی در پاسخ به پرسش خبرنگاری گفت که او وتیمش درحال مذاکره با اردن، مصرودیگر کشورها است ومی خواهد شاهد توافقی برای انتقال دایمی آنها به خانه های زیبا وجایی که بتوانند درشادی وامنیت زندگی کنند وکشته نشوند، باشد. این اظهارات واهی وبی اساس ترامپ با واکنش های گسترده جهانی به ویژه هم پیمانان امریکا هم مواجه شده و خاطرنشان ساختند که باید فلسطینیان، فلسطین را اداره کنند وطرح ترامپ مغایرقوانین بین المللی و نقض حقوق فلسطینیان است. اظهارات ترامپ در حالی واکنش های جهانی را به همراه داشته که چندی پیش مقام های رژیم صهیونیستی نیز پیشنهاد ایجاد یک کشورفلسطینی در خاک عربستان سعودی را مطرح کرده بودند که این اظهارات وقیحانه نیز با واکنش های گسترده جهانی مواجه شد وتأکید کردند که این سخنان؛ نشانه طغیان بی سابقه رژیم اشغالگروتهدید علیه صلح وامنیت منطقه است. وزارت امور خارجه امارت اسلامی افغانستان نیزدر واکنش به این اظهارات دراعلامیه یی انکارنتانیاهو نخست وزیررژیم صهیونیستی ازایجاد دولت مستقل ... ص۳

به ده‌ها دهقان در فاریاب تجهیزات زراعتی توزیع گردید



وزارت زراعت، آبیاری و مالداری کشور می‌گوید، برای نزدیک به ۵۰ گروپ دهاقین در ولایت فاریاب تجهیزات زراعتی توزیع شد.

به گفته وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، تجهیزات زراعتی به ۴۸ گروپ دهاقین در ۱۷ ولسوالی ولایت فاریاب توزیع شده است.

در خبرنامه آمده که این تجهیزات به همکاری دفتر «اکتید» در اختیار دهاقین قرار داده شده است.

وزارت زراعت، آبیاری و مالداری افزوده که تجهیزات یادشده در چارچوب فاز پنجم پروژه «انکشاف پایدار روستاها» توزیع شده است.

گفتنی‌است که توزیع وسایل و تجهیزات مدرن زراعتی برای نزدیک به ۵۰ گروپ دهاقین در ولایت فاریاب در رُشد زراعت و میکانیزه‌سازی آن سودمند است.

به ۲٦٤۳ خانواده در سمنگان مواد غذایی توزیع شد

برای ۲ هزار و ۶۴۳ خانواده نیازمند در مربوطات ولایت سمنگان کمک مواد غذایی توزیع شده است.

نیک محمد نیکزی، مدیر مسئول این موسسه گفته که کمک‌های غذایی به خانواده‌های ساکن در ولسوالی «خُلم» ولایت سمنگان توزیع شده است.

آقای نیکزی گفته که کمک‌های غذایی به حمایت مالی برنامه جهانی غذا (WFP) توسط موسسه تقویت اجتماعی افغانستان در اختیار خانواده‌های نیازمند قرار داده شده است. برای هرخانواده مقدار ۵۰ کیلوگرام آرد، ۴.۵ کیلوگرام روغن، ۶.۲۵ کیلوگرام ... ص۳



سخنان گرانقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله و توصیه‌های طلایی ایشان

مفتی نعمت الله انصاری

در روز چهارشنبه، ۱۳ شعبان سال ۱۴۴۶ هجری قمری، ساعت تقریباً دو بعد از ظهر، شخصیت عظیم، شیخ صاحب حفظه الله، به پوهنتون (دانشگاه) قندهار تشریف آورد و برای اولین بار قدم‌های مبارک او را این مرکز علمی بوسه زد و تا غروب آفتاب در اینجا ماند.

در کنار بازدید از برخی بخش‌های پوهنتون(دانشگاه) ایشان با رهبری دانشگاه، اساتید، کارکنان اداری، محصلین و همه حاضرین در دانشگاه دیدار و گفتگو کرد و از سخنان ارزشمند و توصیه‌های گرانبهای خود بهره‌مند ساخت.

این فرصت برای ما نیز فراهم شد که باردیگر به ملاقات با این زعیم بزرگ نایل شویم و به صورت مستقیم از سخنان ارزشمند ایشان بهره‌برداری کنیم. برخی از توصیه‌ها و نکات ایشان را یادداشت کرده‌ام که در اینجا با شما به اشتراک می‌گذارم.

۱- شیخ صاحب حفظه الله سخنان خود را با بیان اهمیت و فضیلت علم آغاز کردند و در این مورد توضیحاتی جامع از دو آیه قرآن کریم: (هل یستوی الذین .... و علم آدم الأسماء کلها ...) ارائه دادند.

۲- شیخ صاحب حفظه الله اساتید علم دین و علم معاصر را افرادی خوشبخت دانستند که به جای منافع شخصی، در خدمت به منافع عمومی و جامعه تلاش می‌کنند.

۳- شیخ صاحب حفظه الله فرمودند: «خداوند انسان را در بهترین صورت آفریده است و بهترین صورت انسان علم و عقل است. تکمیل عقل انسان با علم است و زمانی که عقل و علم با هم همراه شوند، انسان در همه زمینه‌ها خیر خواهد بود.»

۴- شیخ صاحب حفظه الله فرمودند: «انسان در زمین خلیفه خداوند (ج) است و باید احکام خداوند(ج) در زمین اجرایی شود.»

۵- شیخ صاحب حفظه الله بر اهمیت و ضرورت علم معاصر تأکید کردند و گفتند: «انسان موجودی اجتماعی است و نیاز به علم دنیوی و کسبی دارد و علم حضرت آدم علیه‌السلام نیز علمی اجتماعی، مدیریتی ومعیشتی بود که خداوند نام‌ها را به او آموخت.»

۶- شیخ صاحب حفظه الله علم را به نور تشبیه کردند که در تاریکی راه را روشن می‌کند و فرمودند: «علم همانند نور است که در شب تاریک به انسان کمک می‌کند تا راه خود را بیابد، همانطور که توسط علم نیز همه چیز روشن و مشخص می‌شود.»

۷- شیخ صاحب حفظه الله بر ضرورت علم در شناسایی خوب و بد تأکید کردند و فرمودند: «اگر کسی ظلم را نشناسد، چگونه می‌تواند خود را از آن دور نگه دارد؟ و اگر کسی عدل را نشناسد، چگونه می‌تواند آن را برقرار کند؟»

۸- شیخ صاحب حفظه الله در مورد فضیلت نفع رساندن به دیگران با علم فرمودند: «نفع رساندن به دیگران با علم از عبادت خود فرد بهتر است، زیرا عمل فردی لازمی است، اما نفع رساندن به دیگران عبادتی متعدی است.»

۹- شیخ صاحب حفظه الله همه را به یادگیری علم دینی و علوم عصری تشویق کردند و فرمودند: «علم دنیوی و دینی را کسب کنید، اما علم دینی را برتری دهید و علم دنیوی را با نیت خدمت به دین بیاموزید.»

۱۰- شیخ صاحب حفظه الله توصیه‌ای طلایی به علما داشتند و فرمودند: «علما باید علاوه بر علم دینی، علم عصری را نیز بیاموزند تا علم دینی شان وسیله‌ای برای کسب مادیات نشود. علم را ذلیل نکنید، علم بهترین عبادت است و نیت‌ها را در آن اصلاح کنید.»

۱۱- شیخ صاحب حفظه الله محصلین را قشر امیدبخش جامعه دانسته و به آنان فرمودند: «شما محصلین کسانی هستید که همه چشم‌ها به شما دوخته شده است، مردم از شما توقع دارند که خدمت کنید، اخلاق و آداب خوب داشته باشید.»

۱۲- شیخ صاحب حفظه الله به یورش‌های کفار به افغانستان اشاره کردند و فرمودند: «دو بار کفار دست خود را در حیات ما به افغانستان دراز کردند (یک بار شرق و سپس غرب)، تا این جامعه را فاسد کرده و نابود کنند، اما افغان‌ها با غیرت ایمانی خود شکست سختی به آنها دادند و به خداوند ایمان داریم که دیگر به این سمت باز نخواهند گشت.»

۱۳- شیخ صاحب حفظه الله محصلین را تشویق کردند که به زیارت شهیدان بروند و به ویژه شهیدان میوند را یاد کردند و فرمودند: «به زیارت شهیدان میوند بروید، تاریخ اجداد خود را حفظ کنید وبنویسید، شما محصلین ستارگان تاریخ افغانستان خواهید بود.»

۱۴- شیخ صاحب حفظه الله از قربانی‌های محصلین در دوران جهاد یاد کردند و فرمودند: «محصلین دانشگاه قربانی‌های زیادی داده‌اند و شهدای زیادی داشته‌اند، خداوند(ج) شهادت‌های آنان را قبول کند.»

۱۵- شیخ صاحب حفظه الله با قاطعیت مخالفت خود را با قتل‌های مرموز اعلام کردند و فرمودند: «در حکومت ما کسی پنهانی کشته نخواهد شد، چه سیاسی باشد چه غیر سیاسی، من اجازه نمی‌دهم و طرفدار چنین کارهایی نیستم. همه امور باید بر اساس حکم محاکم علنی انجام شود.»

۱۶- شیخ صاحب حفظه الله به تحریم‌های غیرقانونی غرب اشاره کردند و فرمودند: «غربیان نمی‌خواهند که ما امنیت و صلح داشته باشیم، آنان در اینجا کشته و زخمی شدند و اکنون می‌خواهند انتقام بگیرند.»

۱۷- شیخ صاحب حفظه الله فرمودند: «غربگراها نمی‌خواهند افغانستان مترقی باشد، آنان افغانستان را معامله کرده و آن را فروخته بودند. وقتی که فتح شد، بلافاصله خارج رفتند و در کاخ‌های خود نشسته‌اند.»

۱۸- شیخ صاحب حفظه الله به محصلین و اساتید گفتند: «همانطور که در جهاد امتیاز کسب کرده‌اید، در علم نیز باید امتیاز بگیرید و افغانستان را به مرکز علم تبدیل کنید به گونه‌ای که مردم از سراسر جهان برای تحصیل به اینجا بیایند.»

۱۹- شیخ صاحب حفظه الله همه را به ساختن کشور خود تشویق کردند و فرمودند: «افغانستان را بسازید، خودتان باید برای ساخت آن تلاش کنید، کسی دیگر این کار را برای شما نخواهد کرد.»

۲۰- شیخ صاحب حفظه الله به محصلین گفتند: «شما آینده این کشور هستید، اگر می‌خواهید که افغانستان سالم و امن داشته باشید، باید از همین حالا دست به کار شوید، برای اتحاد و همبستگی کار کنید و در ساخت کشور، ایجاد امنیت، ثبات و پیشرفت تلاش کنید.»

در مجموع، سخنان شیخ صاحب حفظه الله جامع، همه‌جانبه و تفصیلی بود که حول محور اهمیت و ضرورت علم دینی وعلوم معاصر، خدمت به دین و وطن به صورت صادقانه، نگارش کارنامه‌های مجاهدین و شهیدان، و توسعه و خیرخواهی برای این ملت مسلمان و سرزمین عزیز می‌چرخید. این سخنان همراه با مهر و شفقت ایشان برای مردم و وطن مژده های زیبای است. خداوند بزرگ سایه لطف ایشان را از سر ملت افغانستان و امت مسلمان برندارد و ایشان را در مسیر دین استوار نگه دارد و از هر شر و آسیب در امان داشته باشد.

آمین یا رب العالمین

تعلیم او اسلامي عقیده؛ د فکري او تمدني ځواک لپاره د تعلیمي نظام اهمیت

محمد قاسم عزام

اسلامي عقیده د هر مسلمان د ژوند اساس دی او د عقیدې تحکیم د فردي او ټولنیزې اصلاح لپاره ډېر مهم دی. د تعلیمي نظام رول د دې عقیدې پر پیاوړتیا او د هغې په عملي تطبیق کې بارز رول لري. تعلیم نه یوازې د عقیدې د معرفت وسیله ده، بلکې د نسلونو د فکري جوړښت لپاره د لارې رڼا هم ده. اسلامي تاریخ شاهد دی، چې د امت تعلیمي نظام قوي شوی،عقیدې پیاوړې شوې او د مسلمانانو د ژوند ټول اړخونه د اسلامي اصولو پر اساس تنظیم شوي دي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم بعثت له تعلیم سره پیل شو، لومړنی وحي د "اقْرَأْ" پر حکم وه، چې د تعلیم ارزښت ته اشاره کوي. د تعلیمي نظام اصلي موخه دا ده چې د مسلمانانو نسلونه داسې وروزل شي چې عقیده یې یوازې نظري نه، بلکې عملي بڼه هم ولري.

تعلیم د اسلامي عقیدې د فهم، استدلال او تطبیق لپاره له ټولو مهمه وسیله ده. که د تعلیمي نظام اساسي چوکاټ د اسلامي عقیدې پر اساس جوړ شي، نو ټولنه نه یوازې د فکري او اخلاقي انحرافه ژغورل کېږي، بلکې د یو سالم تمدن د جوړېدو لپاره لاره هوارېږي. د تاریخ په اوږدو کې، هر هغه امت چې تعلیم یې د عقیدې له اصولو سره یوځای کړی، د فکري پیاوړتیا، تمدني پرمختګ او ټولنیزې اصلاح لپاره یې قوي بنسټونه ایښي دي.

کله چې اسلامي امت د علمي ځواکمنۍ په اوج کې و، د مسلمانانو عقیده نه یوازې له انحرافه خوندي پاتې شوې وه، بلکې د تمدني ودې سبب هم ګرځېدلې وه. د نبوي دورې له زده کړې نیولې تر اسلامي خلافتونو پورې، تعلیم د عقیدې د پیاوړتیا لپاره کارول شوی. رسول الله ﷺ د لومړۍ وحی "اقْرَأْ" (ولوله) له لارې د علم او تعلم اساس کېښود، چې دا د اسلامي تعلیمي نظام اساسي اصل وګرځېد. نبي علیه السلام خپل صحابه کرام د عقیدې په صحیح فهم روزلي وو، لکه حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه، چې رسول الله ﷺ یمن ته د دین خپرولو لپاره واستاوه او ورته وې ویل: "إِنَّكَ تَأْتِي قَوْمًا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ، فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ" (بخاري، ۱۳۹۵). دا د دې ښکارندویي کوي چې د عقیدې زده کړه د اسلام د دعوت لومړیتوب و.

د اسلام د مدني دورې پوهان لکه امام ابو حنیفه، امام مالک، امام شافعي او امام احمد بن حنبل رحمهم الله د اسلامي علومو د پراختیا لپاره د تعلیم بنسټیز حیثیت ثابت کړی. امام ابو حنیفه رحمه الله، چې د عقیدې په برخه کې یې د "الفقه الأکبر" کتاب ولیکه، تعلیم یې د عقیدوي استدلال یوه قوي وسیله ګڼله. امام شافعي رحمه الله ویل: "من تعلم القرآن عظمت قیمته، ومن تعلم الفقه نبل مقداره" (بیهقي، مناقب الشافعي ۳۵۹/۲)، یعنې: "څوک چې قرآن زده کړي، ارزښت به یې لوړ شي او څوک چې فقه زده کړي، د هغه مقام به لوړ شي." دا ښوونه د عقیدې د فهم او تطبیق لپاره علمي بنسټ ته اشاره کوي.

د عباسي خلافت په زمانه کې، د بیت الحکمة په نوم یو لوی علمي مرکز جوړ شو، چېرې چې اسلامي عقیدې ته ژمنو پوهانو د دیني علومو تر څنګ فلسفه، ریاضیات، طب او هندسه مطالعه کوله. دا د دې ښکارندویي کوي چې عقیده او علم یو له بله جلا نه دي، بلکې اسلامي تمدن د همدې ترکیب له برکته پرمختګ کړی. امام غزالي رحمه الله د "إحیاء علوم الدین" په کتاب کې تعلیم د زړه د اصلاح او د ایمان د پیاوړتیا لپاره له ټولو مهم عنصر ګڼلی.

که د اسلام تعلیمي نظام معاصر مثال ته وګورو، نو هغه ټولنې چې تعلیم یې د اسلامي عقیدې پر اساس جوړ کړی، د عقیدوي ثبات ترڅنګ یې علمي او تمدني وده هم کړې. د عثماني خلافت په دوران کې، د مدرسو نصاب د عقیدې، فقهې، منطق او فلسفې ترکیب و، چې له همدې امله یې د اسلامي نړۍ د علمي او سیاسي قوت لپاره د بنسټ ډېره کېښوده.

تعلیم یوازې د نظریاتو انتقال نه دی، بلکې د نسلونو د فکري روزنې او معنوي اصلاح وسیله ده، چې د ایمان، توحید او اسلامي ارزښتونو ژور تعلیم په کې شامل وي. دا یو داسې پروسه ده چې نه یوازې معلومات ورکوي، بلکې شخصیت جوړوي، فکري توازن رامنځته کوي او د امت د فکري سلامتۍ لپاره لاره هواروي. کله چې تعلیمي نظام د عقیدې پر اساس جوړشي، دا یوازې افراد نه، بلکې ټولنې ته د عقیدوي قوت، اخلاقي ثبات او د فکري انحراف پر وړاندې د مقاومت ځواک ورکوي.

د دې حقیقت یو روښانه مثال د اسلامي تمدن زرینه دوره ده، چېرې چې تعلیمي نصاب د قرآن او سنتو پر اساس و او نتیجه یې دا شوه چې اسلامي امت نه یوازې دیني علومو کې، بلکې طب، ریاضي، فلسفې او ستورپوهنې کې هم پرمختګ وکړ. لکه څنګه چې امام غزالي (رحمه‌الله) ویل: "له علم پرته دین نیمګړی او د اخلاقو پرته پوهه خطرناکه ده." همدا سبب و چې اسلامي مدارسو نه یوازې دیني علما، بلکې داسې علماء وروزل چې د تمدن ستنې یې جوړې کړې، لکه ابن سینا، ابن هیثم او فخرالدین رازي.

د دې لپاره ضروري ده چې تعلیمي نصاب د اسلامي عقیدې له اصولو سره سم جوړ شي، ترڅو د امت راتلونکي نسلونه له فکري بې لارې کېدو، سیکولریزم او الحاد څخه خوندي پاتې شي او د اسلامي تمدن بیا رغونه ممکنه شي.

که تعلیمي نظام د اسلامي عقیدې پر اساس تنظیم شي، نو د مسلمانانو ذهنیت د هر ډول فکري شبهاتو او انحرافاتو پر وړاندې قوي کېږي. د معاصرې نړۍ د فکري جریاناتو له امله اسلامي امت له بېلا بېلو ننګونو سره مخ دی، چې په کې سیکولریزم، الحاد او مادي فکرونه شامل دي. دا جریانونه که د قوي علمي استدلال له لارې تحلیل نه شي، نو مسلمان نسلونه د فکري ضعف ښکار کېږي. اسلامي تعلیمات که له ابتدایي پړاوه تر لوړو زده کړو پورې د عقیدې پر اساس تنظیم شي، نو دا ستونزې حلېدای شي. امام غزالي رحمه الله ویلي، چې د یو امت بقا په فکري قوت کې ده او که فکري بنسټونه کمزوري شي، نو امت د ضعف او زوال ښکار کېږي. تعلیم باید داسې ترتیب شي چې اسلامي عقیده د هر زده کوونکي د فکر محور وي، نه یوازې یو ضمني موضوع.

د اسلامي امت د تاریخ ځینې مهم پړاوونه دا ښیي چې هر ځل چې د تعلیمي نظام تمرکز د اسلامي عقیدې پر تقویه کولو و، نو ټولنه په علمي، اخلاقي او تمدني لحاظ قوي پاتې شوی. د عباسي خلافت، اندلس او عثماني خلافت تعلیمي نظامونه د عقیدې د تحکیم له لارې د اسلامي تمدن بنسټونه جوړ کړل. برعکس، هر ځل چې تعلیم له عقیدې جلا شوی، د اسلامي ټولنو زوال پیل شوی. معاصر اسلامي امت چې له بېلا بېلو فکري، اخلاقي او سیاسي ستونزو سره مخ دی، د دې ټولو ستونزو حل یوازې د یو قوي اسلامي تعلیمي نظام له لارې ممکن دی. اسلامي امارت که غواړي چې خپل نسلونه د عقیدې پر اساس وروزي، نو باید د تعلیمي نصاب د تدوین، استادانو د روزنې او د علمي بنسټونو د تقویې لپاره ځانګړې پاملرنه وکړي.

د تعلیمي نظام اصلي موخه باید دا وي چې زده کوونکي د اسلامي عقیدې پر اساس فکري خپلواکي ترلاسه کړي، خپل دین د عقل، نقل او تاریخ له زاویې درک کړي او د معاصرې نړۍ له چیلنجونو سره په قوي علمي اساس مقابله وکړي. که تعلیمي نصاب یوازې د معاصر علومو پر تخنیکي اړخ تمرکز وکړي او د عقیدې، ایمان او اسلامي فکر بنسټونه کمزوري پاتې شي، نو نسلونه به د فکري استعمار ښکار شي. تعلیمي بنسټونه که د اسلامي عقیدې د تحکیم لپاره لازم تدابیر ونیسي، نو د امت فکري، اخلاقي او سیاسي ځواک به بېرته را ژوندی شي. اسلامي عقیده یوازې د یو فرد د عبادت چارچوب نه دی، بلکې د ټول ژوند بنسټ دی او د تعلیمي نظام اصلاح د دې بنسټ د ساتنې یوازینۍ لار ده.

مربیان فتنه انگیزان و خوارج در آن سوی مرز قرار دارند

رحمت الله فیضان

اسلام دین صلح، برادری و همبستگی است و هیچ‌گونه سازگاری با فتنه‌انگیزی و ایجاد تفرقه در میان مسلمانان ندارد. کسانی که به نام دین دست به آشوب و خونریزی می‌زنند، در حقیقت در مسیر تضعیف امت اسلامی گام برمی‌دارند و آلت دست بیگانگان هستند.

فتنه‌انگیزی، که زمینه‌ساز اختلاف و نفاق در جامعه اسلامی است، رفتاری مذموم و مغایر با آموزه‌های قرآنی است. خداوند متعال در قرآن کریم فتنه را شدیدتر از قتل دانسته است، زیرا پیامدهای آن بر امنیت، همبستگی و ثبات جوامع اسلامی تأثیرات مخربی بر جای می‌گذارد. مسلمان واقعی کسی است که در جهت تقویت وحدت و همدلی تلاش کند، نه اینکه آتش اختلاف و خشونت را شعله‌ور سازد.

در طول تاریخ، گروه‌هایی به نام اسلام اقداماتی انجام داده‌اند که نه‌تنها با تعالیم اسلامی در تضاد بوده، بلکه چهره‌ی اسلام را مخدوش کرده است. در حالی که دین مبین اسلام، ریختن خون بی‌گناهان را از گناهان کبیره می‌داند، این گروه‌ها در راستای تأمین اهداف مغایر با مصالح امت اسلامی حرکت کرده‌اند.

افغانستان در سال‌های اخیر اقدامات جدی برای نابودی پناه گاه‌های گروه‌های مخرب از جمله داعش انجام داده است. بااین‌حال، شواهد امنیتی نشان می‌دهد که عاملان بسیاری از حوادث ناامنی در آن سوی خط دیورند مستقر هستند. اطلاعات استخباراتی نیز حاکی از آن است که مراکز اصلی سازمان‌دهی و پشتیبانی از این گروه‌ها در آن سوی این مرز قرار دارد.

بازیگران منطقه‌ای و بین‌المللی باید درک کنند که ناامنی در افغانستان محدود به این کشور نخواهد ماند و پیامدهای آن دیر یا زود دامن آنان را نیز خواهد گرفت. مسئولیت مشترک همه کشورها و طرف‌های ذی‌ربط آن است که به‌جای دامن زدن به بی‌ثباتی، مسیر همکاری، تفاهم و همزیستی مسالمت‌آمیز را در پیش گیرند و در جهت تأمین صلح و ثبات منطقه‌ای تلاش کنند.

حکومت افغانستان هم مسئولیت دارد که باید با هوشیاری و تدبیر در برابر دشمنان دین و بشریت که به کشتار، جنگ و جنایات سازمان‌یافته دست می‌زنند، ایستادگی کند. تجربه، مادر علم است؛ از این‌رو، بهره‌گیری مؤثر از آن در سیاست‌گذاری‌ها و اقدامات امنیتی ضروری است. جنایت قندوز بخشودنی نیست و حکومت باید تدابیر لازم را برای جبران آن و جلوگیری از تکرار چنین فجایعی اتخاذ کند.

د مدارسو مالي او ځاني ملاتړ مو دیني وجیبه ده!

منیر فاروقی

له کوم ځایه چې د انبیاوو وارثان، د دین ستنې او د اسلامي امت رهبران راټوکېږي، د هغو ځایونو او مقدساتو تر څنګ درېدل او د هغو مالي او ځاني هر اړخیز ملاتړ کول، د هر مسلمان او بیا په خاص ډول د اسلامي امارت دیني وجیبه ده، چې باید د خپل سر او مال په ټول ځواک سره د یادو مراکزو لاسنیوی او ملاتړ وکړي.
د اسلام د مبارک دین طالبان او زده کوونکي د رسول الله صلی الله علیه وسلم له دور څخه پیل شوي او تر نن ورځې دوام لري، چې د هغه وخت طالبان د اصحاب صفه په نوم یادېدل، کوموبه چې د دین حاصلولو لپاره له خپلو کورونو او وطنونو راوتلي او د رسول الله په دیار کې به مېشتېدل. همدارنګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم، خلفاء راشیدونو او له هغو را وروسته زمانو کې داسې مدرسې نه وې، کومې چې اوسمهال زموږ او ستاسو په سیمو کې رائج دي، چې مدرسه له مسجد څخه ځانته تعمیر لري، پخوا به خلکو دیني علوم په مساجدو کې زده کول او تدریسول. دغه د مدرسې د تعمیر جوړولو ستر ویاړ الله پاک د افغانانو پر نصیب کړی؛ هغه داسې چې یو کتاب د (تاریخ دیوبند) په نوم دی، هغه کتاب کې د مدرسې تاریخ په هکله داسې لیکل شوي، چې د سلطان محمود غزنوي رحمه الله په زمانه کې د غزني په ښار کې یو ښکلی مسجد د (عروس الفلک) په نوم جوړ شو، چې ترڅنګ یې د مدرسې لپاره ځانته تعمیر ودان شو، چې دغه تعمیر د اسلام په تاریخ کې د مدرسې لومړنی تعمیر یاد شوی، چې مخکې تردې هیڅ داسې کار نه و کړی، نو ځکه د مدرسې ویاړ د افغانانو په نصیب شوی دی. حدیث شریف دی چې کوم مسلمان د یو نېک کار بنسټ کېښود، نو چې څومره مسلمانان هغه کار ترسره کوي، نو په اجر کې یې هغه بنسټګر شریک دی، نو الله تعالی دې دغه نېک عمل د افغانانو څخه قبول کړي.
دا چې دغه ستر ویاړ الله پاک موږ ته رانصیب کړی، نو پر موږ لازمه ده چې له ټولې اسلامي نړۍ څخه زیات موږ د همدې مدارسو حفاظت او لاسنیوی وکړو.
مسلمانانو ورونو! دیني مدارس د اسلام او ایمان د حفاظت مرکزونه دي او وي به ان شاءالله، نه یوازې مدارس بلکې مسجدونه، مکتبونه او نور دیني مراکز دا د اسلام، ایمان او د دجال له فتنو څخه د مسلمانانو د حفاظت مرکزونه دي.
که چېرې خپل تېر تاریخ ته لږ سر ورښکاره کړو، نو معلومه به شي چې په همدې خړو پړو مدارسو کې اسلام او ایمان ساتل شوی دی. کله چې انګرېزانو په هند یرغل وکړ، نو مولانا قاسم نانوتي رحمه الله د استعمار په مقابل کې د اسلام د حفاظت لپاره د مدرسې بنیاد کېښود او له همدغه ادرسه یې د اسلام څخه دفاع او د کفر پر خلاف تبلیغات پیل کړل. د مسلمانانو د عقیدوي او جهادي روزنې ترڅنګ یې د کفر شوم اهداف خلکو ته رسوا او وروښودل.
د هغه وخت علماوو د اسلام د حفاظت په خاطر درې ډلې جوړې کړې، چې یوې ډلې به د انګرېزانو پر خلاف جهاد کاوه، دوهمې ډلې به په مدارسو کې دیني علوم تدریسول او دریمې ډلې به دعوت او تبلیغ کاوه، تر څو هغو خلکو ته دین ورسوي، چې مدارسو ته یې لاسرسی نه درلود، نو هماغه و چې د مدارسو څخه د اسلام حفاظت وشو، نو اړینه ده چې هر مسلمان د مدارسو حفاظت او ورسره مرسته د خپل ژوند له اولیاتو وګڼي او په دې برخه کې لاس په کار شي.
ورونو! غواړم چې د خپلې لیکنې اصلي موخې ته راشم، هغه دا چې که نن ورځ موږ او تاسو د خپلو دیني مدارسو، مساجدو او مکاتبو حال ته پام وکړو، والله چې د وینښ ضمیر لرونکي به ورته وژاړي. دیني مدارس او مساجد مو شاړ شوي، په ټوله مدرسه کې به یو داسې استاد پیدا نه کړې، چې زړه دې پرې ښاد شي او نه به په کوم جامع مسجد کې داسې خطیب پیدا کړې، چې زړه دې پرې اوبه وڅښي. مخکې خو مو بهانه جوړه وه، ویل به مو چې هېواد مو یرغمل شوی، پوه او تکړه علماء مو د هېواد څخه هجرت ته اړ شوي، ځکه مو په مدارسو او مساجدو کې مدرسین او استادان کمزوري دي، خو اوس چې الحمدلله د یرغل تغر ټول او په هېواد کې مو سرتاسري امن او اسلامي نظام قایم دی، خو د تېر په پرتله اوس مو د مساجدو او مدارسو حال د ژړا وړ دی. ټول علماء کرام، محدثین، مفسرین او مدرسین مو د اسلامي امارت؛ نظامي او ملکي ادارو ته داخل شوي.
دیني مدارس او مساجد مو لکه یتیمان او بې سرپرسته در په در خاورې په سر دي. والله که چېرې مو د اطرافو مدارسو او مساجدو ته سر ورښکاره کړ؛ وبه ژاړئ! ورونو! دغه د مدارسو استادان او د مساجدو امامان زما په نظر ملامت نه دي، ځکه د مدرسې د استادانو او امامانو به څومره معاش وي!؟ پنځو څخه تر اتو زرو افغانیو، دغه کمه اندازه پیسې به استاد او امام کوم طرف ته ورسوي، مجبور دي چې په اسلامي امارت کې دنده واخلي او خپلې دیني وجیبې ته چې تدریس دی، شا کړي. که چېرته د امارت له خوا د مدارسو استادانو او ملا امامانو ته په کافي اندازه معاش ورکړل شي، نو ګمان نه کړم چې اوس به مو د مدارسو او مساجدو دغه حال وای. مسئولینو ورونو! که چېرې زموږ د مدارسو او مساجدو دغه حال وي، کوم چې دا اوس روان دی، نو لیرې به نه وي، چې د کفارو کوم شوم اهداف، چې هغه د مسلمانانو له دین او ایمان څخه لیرې ساتل دي، هغه به موږ پرته د هغوی له کوم مالي او ځاني تاوان څخه پوره کړو. ځکه چې مخکې به مو علماوو او طلباوو په (قال الله او قال رسول الله) اخته و، د قرآن او احادیثو درسونه به یې بیانول، اوس د مکتوبونو او فرمانونو په قید واردې، صادرې، ثبت او رسیداتو مصروف شول، د دیني علومو پر ځای یې انګلیسي او کمپیوټرو ته مخه کړې، نو په همدې وجه وایم، چې بالاخره به زموږ تکړه شیوخ او مدرسین په قید واردې او صادرې کې زاړه شي، ځوانان به مو د دین او اسلام څخه لرې د کفر او دجال په لومو کې را لوی شي. بیا به او به له ورخه تېرې وي، هېڅ به مو له وسې نه وي پوره، لاسونه به موښو، خو وخت به تېر وي. هغه متل رښتیا دی، چې وخت سره زر دی، باید له دغه زرین چانس څخه چې اسلامي نظام دی، ګټه ترې پورته کړو، ځکه چې اوسمهال ټول واک د هماغو مدارسو د مدرسینو په لاس کې دی، کومو چې تر پرونه په همدغو مدارسو کې در په در پراته وو.
مسئولینو ورونو! زموږ د افغان غیور ملت دغه هیله وه، چې د اسلامي نظام په راتګ سره به له ټولو لوی خدمت زموږ مدارسو او مساجدو ته وشي، ځکه چې همدغه مدارس و، چې پر دین او وطن مین عقیدوي ځوانان یې وروزل او ټولنې ته یې د اسلام د دفاع لپاره وړاندې کړل او هغو روزل شویو ځوانانو هم په رښتیا د کفر لښکرو ته د هغوی د خپلو سرونو په کاسو کې اوبه ورکړې، خو د تأسف ځای دا دی، چې اوس مو هماغه مراکز چې د دین د باغیچې ګلان ترې فارغېدل، اوسمهال د یتیمانو په څېر، بې موره او پلاره د سوال په ګډۍ ناست دي او د ملاتړ یې هیڅوک نشته.
ربه! ته مو د مدارسو حافظ شه.

افغان اعلانات

اعلان داوطلبی(٤) جایداد امارتی مربوط ناحیه اول شهر کابل!

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه سه باب دوکاکین واقع ظاهر شاهی مارکیت و دو باب اطاق مخروبه واقع سمت شرق تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر متصل به شفاخانه میوند مربوط ناحیه اول شهر کابل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد.
١- یک باب دوکان نمبر ١٦٢ به مساحت ١٢/٦ متر مربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤١١١٠) افغانی مدت (١) سال.
٢ - یک باب دوکان نمبر ١٠٧ به مساحت ٥/٨٥ متر مربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٢٥٣٠٠) افغانی ، برای مدت (١) سال.
٣ - یک باب دوکان نمبر ١١٨ به مساحت ٥/٧ متر مربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٧٦١٥٠) افغانی مدت (١) سال.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩/١٧٧٥٦ -٣٤/٥١٧١
٤- دو باب اطاق مخروبه به مساحت ٤٤/٨٢ متر مربع واقع ختم کوچه، سمت شرق تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر متصل به شفاخانه میوند مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٧٥٠٠) افغانی، برای مدت (٢) سال
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩/١٧٢١٩ ٣٤/٥١٣٤٢
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق را داشته باشند میتوانند در خواست های شان را بعد از تاریخ ٢٨ دلو ١۴٠٣ الی ١٨حوت ١۴٠٣ به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند. آدرس:سینما پامیر تعمیر ١٤منزله، منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکزي.
شماره تماس-٠٢٠٢٩٢٤٦٢٤-٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧. مجلس داوطلبی تاریخ ١٩ حوت ١۴٠٣ به ساعت١٠:٠٠قبل از ظهر برگزار میگردد

***

موضوع: اعلان تصمیم اعطای قرارداد

بدنوسیله به تآسی از فقره (٢) ماده چهل وسوم قانون تدارکات به اطلاع عمومی رسانیده میشود شرکت امارتی نفت وگاز افغانستان در نظر دارد، قرارداد پروژه: خریداری ١٠ قلم مواد تعمیراتی غرض حفظ و مراقبت تاسیسات برای سال مالی ١۴٠٣با شماره تشخیصیه /AOGC NCB/1403/G-022 را به شرکت ساختمانی و انجنیری معیار بلند، دارنده جواز نمبر (٨٧١٦٩) واقع شهرک صفا ناحیه ١٧ کوتل خیرخانه، کابل با قیمت مجموعی حد اقل مبلغ (٩٧٢,٨١٥- نوصد و هفتاد دو هزارو هشتصد و پانزده افغانی) و حد اکثر مبلغ (١,٢٢١,١٠٠ یک میلیون و دوصد و بیست یک هزارو یک صد افغانی) اعطاء نماید.
اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی (٧) روز تقویمی طور کتبی با دلایل آن به {آمریت تهیه وتدارکات شرکت امارتی نفت وگاز افغانستان} واقع {ناحیه ١٧، سرکوتل خیرخانه} مطابق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.٩٣٠٨

***

اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم عبدالودود شیرانی فرزند محمد علی ولدیت سمندر خان دارنده تذکره نمبر (٠٢٧٥٨- ٠٦٠٠ - ١۴٠٢) مالک امتیاز دواخانه مسیحا واقع ولسوالی بلخ ولایت بلخ طی درخواستی به مقام محترم معینیت غذا و ادویه وزارت صحت عامه عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم سید مختار احمد احمدی فرزند سلطان احمد ولدیت سعد الدین دارنده تذکره شماره (٢٣٣٨٦- ١٢٠٣ - ١٣٩٩) مسکونه اصلی ولایت فراه گردیده است.
اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ١٠ روز به آدرس معینیت غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ٩٢٨۴

***

اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم سید مختار احمد احمدی فرزند سلطان احمد ولدیت سعد الدین دارنده تذکره نمبر (٢٣٣٨٦- ١٢٠٣- ١٣٩٩) مالک امتیاز دواخانه صبور واقع ولسوالی بلخ ولایت بلخ طی قطعه درخواستی عنوانی معینیت غذا و ادویه وزارت صحت عامه عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم عبدالودود شیرانی فرزند محمد علی ولدیت سمندرخان دارنده تذکره شماره (٠٢٧٥٨- ٠٦٠٠ - ١۴٠٢) مسکونه اصلی ولایت بلخ گردیده است.
اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ١٠ روز به آدرس معینیت غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ٩٢٨٣

میدان وردګو کې له پېښو سره ...

ودانیو تعمیرونه او ګدامونه جوړ کړي.
په ورته وخت کې د میدان وردګو والي قاري بختیار معاذ او پېښو پر وړاندې چمتووالي رئیس مولوي فیض الله جلالي د پېښو پر وړاندې چمتووالي وزیر ته د ښه راغلاست تر څنګ له دوی مننه وکړه چې د میدان وردګو ولایت له زیانمنو خلکو سره یې هر وخت مرستې او همکارۍ کړې.
د یادونې وړ ده چې تر دې مهاله د پېښو پر وړاندې چمتووالي ریاست په کرایي کور کې خپل ولس ته خدمات وړاندې کول.

اظهاراتی که هیچ گاهی جا ...

واظهارات او درباره ایجاد دولت فلسطین در قلمروعربستان سعودی را با شدید ترین الفاظ محکوم کرده واین اظهارات را امکان ناپذیر، توهین به نورم های پذیرفته شده ونقض حاکمیت عربستان سعودی وحقوق مشروع فلسطینی ها خوانده است وتاکید کرده که فلسطین، خاک فلسطینی ها است وتازمانی که اشغال ادامه یابد وحقوق مردم فلسطین نقض شود غزه ومنطقه بی ثبات خواهد ماند.
هرچند پیشنهاد وقیحانه ترامپ ازسوی مصروواردن رد گردیده واین دو کشور ازپذیرش ساکنان غزه خود داری کرده اند وملک عبدالله پادشاه اردن نیز درسفری که اخیراً به امریکا داشت درحضور رسانه ها در رابطه به این موضوع طفره رفت وموضعگیری در این باره را به اجلاس ریاض موکول کرد، اما دونالد ترامپ باردیگر باوجود مخالفت های گسترده بین المللی به برنامه خود برای کنترول غزه وجا بجایی فلسطینیان به دیگرکشور ها تأکید کرده وگفته است که امریکا مصمم است، غزه را خریداری ومالک آن شود.
وی این سخنان را درهواپیمایی ویژه ریاست جمهوری امریکا به خبرنگاران گفت : ما آنجا را می خریم ودراختیارخود می گیریم تا اطمینان حاصل کنیم که حماس دیگربازنخواهد گشت.
اظهاراتی که ازسوی جامعه جهانی وکشور های اسلامی محکوم شده واین اقدام بی پیشینه را مغایرقوانین بین المللی و نقض حقوق بشر خوانده اند. این جا پرسشی مطرح می گردد که ترامپ ونتانیا هو با کدام صلاحیت این حق را به خود می دهند که ساکنان یک منطقه را کوچ اجباری بدهند ویا هم این منطقه را به حراج گذارند ، آیا مقاومت مردم مبارز فلسطین دراین مدت کوتاه فراموش شان گردید؟ نخیر این اظهارات واهی وبی اساس ، نمایانگر هراس رژیم صهیونیستی وحامی خون آشام اش ازمردم مجاهد وآزاده غزه وجانبازان این نوار است، زیرا مقاومت پانزده ماهه جنبش آزادی بخش حماس درمقابل رژیم خون آشام اسرائیل وحامیان جهانی اش این مسئله را آفتابی ساخت که نبرد فلسطینیان برحق وبرعکس رژیم صهیونیستی وحامیان اش باطل بوده اند. ازاینرو کشور های اسلامی به ویژه کشور های منطقه باید به این مسئله بصورت جدی برخورد کنند وبیشترازاین رژیم صهیونیستی وحامی جهانی او را مجال ندهند تا به سرنوشت فلسطینیان وکشور های منطقه بازی کنند.

بازسازی مکان‌های تاریخی و باستانی ...

تأکید کرده که این وزارت می‌کوشد تا با اختصاص بودجه مکان‌های تاریخی و باستانی را بازسازی کند. او بر تعهد امارت اسلامی در راستای حفاظت از داشته‌های تاریخی و باستانی هر ولایت با درنظرداشت قدامت تاریخی آن، تأکید کرده است. این در حالی است که پیش از این رهبری وزارت اطلاعات و فرهنگ حفاظت از میراث‌ها و ارزش‌های فرهنگی کشور را مسوولیت نهادهای بین‌المللی فعال در حوزه فرهنگ نیز دانسته است.

سفر هیئت مشترک ۹ نفری به هدایت ...

از صورت گرفته بود، لغو کند. یکی از توافقات مقام‌های افغان و اوزبیک در بخش صحی صورت گرفته و تأکید شده که در بازار مشترک به مریضان عاجل اجازه داده شود تا با رویت تذکره نیز در شفاخانه بازار مشترک اجازه دسترسی به خدمات صحی را داشته باشند و همچنان در بخش اهدای ویزه به باشندگان حومه‌های بازار یادشده سهولت فراهم شود. در خبرنامه از موفقیت سفر این هیات و تأکید بر هماهنگی‌های بیشتر میان مقام‌های افغان و اوزبیک تأکید شده است.
این در حالی است که از چند ماه این سو بازار مشترک در بخش‌های صفر مرزی میان افغانستان و ازبیکستان ایجاد شده است.

په تېره میاشت کې د څه باندې ...

پاکستان، هند او عربي متحده اماراتو ته او له ټولو ډېر واردات بیا له ایران، پاکستان او چین هېوادونو څخه تر لاسه شوي دي.
د خبرپاڼې له مخې، په صادراتو کې صادرات او بیاځلي صادرات او په وارداتو کې ټول محصولي او غیر محصولي واردات د برښنا د وارداتو له ارزښت پرته شامل دي.

فیض اباد کې د یوه سړک ...

بشپړې شوې دي. د فیض اباد د ښاروالۍ مطبوعاتي مسئول ویلي، چې دغه سړک ۱۶۰ متره اوږدوالی او ۱۳ متره سور لري، چې چارې به یې په پنځو میاشتو کې بشپړې شوې دي.
د نوموړي په وینا، د دې پروژې د جوړېدو پر مهال د سیمې یو شمېر اوسېدونکو ته د کار زمینه هم برابره شوې وه.
د سیمې اوسېدونکو د یاد سړک د جوړېدو له امله خوښي څرګنده کړې او وایي، چې د دې سړک په جوړېدو سره به د دوی د تګ راتګ ستونزې حل او زیاتې اسانتیاوې به ورته برابرې شي.

به ۲۶۴۳ خانواده در سمنگان ...

دال‌نخود و ۵۰۰ گرام نمک توزیع شده است.
علاوه بر این، ۱.۵ کیلوگرام مواد غذایی مقوی مخصوص کودکان و ۳ کیلوگرام سوپر سریال نیز شامل هربسته کمکی برای هر خانواده بوده است. توزیع کمک‌های یادشده به هدف کاهش نیازمندی خانواده‌های نیازمند در ولایت سمنگان صورت گرفته است. هفته گذشته نیز برای هزاران خانواده نیازمند در ولایت‌های مختلف کمک‌های نقدی و غذایی توزیع شده بود.

آغاز کار ۳ پروژه توسط ملا محمد یونس آخندزاده ...

شامل این سه پروژه اند.
در جریان تطبیق این پروژه‌ها زمینه کار برای ده‌ها باشنده محل نیز فراهم خواهد شد. انکشاف متوازن حتی در سطح ولسوالی‌ها به هدف ایجاد سهولت در زندگی مردم از راهبردهای توسعه‌ای امارت اسلامی در بخش تطبیق پروژه‌های انکشافی به شمار می‌رود.

شیخ ابونصر فراهي بندر کې د افغانستان ...

د شیخ ابونصر فراهي بندر د سړک د رغنیزو ستونزو د هوارې لپاره د یې ګډې کمېټې د جوړېدو خبر ورکړ.
نوموړي په جوړه شوې غونډه کې وویل، دا کمېټه به د ایران او افغانستان چارواکو ته د سړک د رغولو د چارو او اړوند راپورونه وړاندې کوي.
نوموړي زیاته کړه، چې ایران له افغانستان سره په فرهنګي، ټولنیزو او روزنیزو برخو کې تلپاتو همکاریو ته ژمن دی او غواړي د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګریزې اړیکې نورې هم پراخې شي.

بیش از ۲ هزار کیلوگرام چرس ...

ولسوالی اسپین‌بولدک ولایت کندهار بدست نیروهای امنیتی افتاده است.
قوماندانی امنیه ولایت کندهار نگفته که قرار بود این مواد از کجا به کجا انتقال داده شود. هنوز معلوم نیست که در پیوند به کشف‌وضبط محموله یادشده مواد مخدر کسی بازداشت نیز شده و یا خیر.
این در حالی است که پولیس مبارزه با مواد مخدر قوماندانی امنیه ولایت کندهار هفته گذشته نیز موفق با کشف‌وضبط بیش از ۴ هزار کیلوگرام مواد در امتداد خط فرضی دیورند شده بود.

د هرات زلزله‌ځپلو ته ۷۰ کورونه ...

زلزله ځپلو ته وسپارل شول. د مسئولینو په خبره دغه کورونه په معیاري ډول جوړ شوي دي. د شمېرو پربنسټ د تېر کال زلزلې له امله د هرات په زنده جان، انجیل، کشک رباط سنګي او ګلران ولسوالیو کې له پنځوس زره زیات کورونه ویجاړ شوي دي.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com وېب سایت:

شریعت
د دولتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Sunday 16 February 2025 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 684

آغاز کار ۳ پروژه توسط ملا محمد یونس آخندزاده در هلمند



ملا محمد یونس آخندزاده، سرپرست وزارت احیاء و انکشاف دهات در سفر به ولایت هلمند آغاز کار سه پروژه انکشافی به ارزش ۷۶ میلیون افغانی را افتتاح کرده است.

بربنیاد خبرنامه، سرپرست وزارت احیاء و انکشاف دهات در مراسم آغاز کار این پروژه‌ها در ولسوالی کجکی ولایت هلمند گفته که امارت اسلامی متعهد به انکشاف متوازن حتی در دورترین نقاط کشور می‌باشد.

بازسازی ۸ کیلومتر کانال آبیاری در قریه دابغول، ساخت و جغل‌اندازی ۳۰ کیلومتر سرک در قریه شیری و ساخت و جغل‌اندازی ۸۸ کیلومتر سرک در قریه سفیدحصار ولسوالی کجکی ولایت هلمند ... ص۳

بیش از ۲ هزار کیلوگرام چرس و تریاک در کندهار کشف‌وضبط شد



نهادهای امنیتی ولایت کندهار از کشف‌وضبط ۲ هزار و ۱۹۵ کیلوگرام مواد مخدر در مربوطات این ولایت خبر می‌دهند.

بربنیاد خبرنامه، محموله کشف‌شده مواد مخدر شامل ۲ هزار و ۱۲۳ کیلوگرام چرس و ۷۲ کیلوگرام تریاک بوده است.

در خبرنامه آمده که این مقدار مواد مخدر در مربوطات ... ص۳

شیخ ابونصر فراهي بندر کې د افغانستان او ایران د لوړپوړو چارواکو ترمنځ غونډه وشوه

د فراه ولایت په شیخ ابونصر فراهي بندر کې د افغانستان او ایران د لوړپوړو چارواکو ترمنځ ګډه غونډه وشوه، چې په کې د سوداګریزو ستونزو د حل، د بندر د سړک د رغنیزو چارو د چټکتیا او د ګډو همکاریو د پیاوړتیا په اړه بحث وشو.

دغه غونډه په کابل کې د ایران سفیر علي رضا بیګدلي، د هرات د سرکنسل علي رضا مرحمتي، د ایران د جنوبي خراسان اقتصادي مرستیال والي جعفري، د فراه والي مولوي غوث‌الدین رهبر او د دوارو هېوادونو یو شمېر لوړپوړو او سیمه‌ییزو چارواکو په ګډون ترسره شوې ده

د فراه والي مولوي غوث‌الدین رهبر د دوارو هېوادونو د سوداګریزو اړیکو پر پراخولو ټینګار وکړ او ... ۳مخ



لوګر کې د استوګنې ۷ ښارګوټي جوړېږي

د لوګر ولایتي چارواکي وایي چې د کور او ښار جوړونې وزارت له لوري د لوګر په مرکز پل‌علم او ولسوالیو کې د هستوګنې اووه ښارګوټي جوړېږي.

د دغه ولایت د والي ویاند صدیق احمد صدیقي وایي، دا ښارګوټي په پل‌علم ښار او ولسوالیو کې په معیاري ډول جوړېږي. صدیقي زیاته کړه، هر ښارګوټی پر ۷۰۰ جریبه ځمکه کې جوړېږي چې د یادو ښارګوټو له ډلې د دوه ښارګوټو لپاره ۱۴ سوه جریبه ځمکه هم تثبیت شوې او د پاتې ښارګوټو د ځمکو د ثبیت چارې پیل شوې.



ننګرهار کې د مخابراتي خدمتونو پوښښ پراخېږي

د ننګرهار مخابراتو او معلوماتي ټېکنالوژۍ مسئولین وايي، چې د نوو مخابراتي سایټونو جوړېدو، د فایبر نوري شبکې پراخوالي او د شبکو د تخنیکي ارزونې له لارې مخابراتي خدماتو کیفیت لوړوي.

ددې ولایت د اترا اداري آمر رحیم الله شینواري وویل، چې غیر قانوني سیمکارتونه صفر شوي او د شبکو د تخنیکي ارزونې او د چوپړونو پراختیا ته کار کېږي.

یادې ځرګندونې د روشن 4G انټرنټ د فعالېدو د کال پوره کېدو په غونډه کې وشوې، چې په کې د دې شبکې مسئولینو د لا ښه او غوره خدماتو وړاندې کولو ژمنه وکړه.

د هرات زلزله ځپلو ته ۷۰ کورونه جوړ شول



د هرات د زنده جان ولسوالۍ په درېیو کلیو کې د یوه نړیوال بنسټ له لوري څه باندې اویا جوړ شوي کورونه ... ۳مخ

میدان وردګو کې له پېښو سره د چمتووالي اداري ته ودانۍ جوړېږي

د میدان وردګو ولایت پېښو پر وړاندې چمتووالي ریاست ته د ۱۳ میلیونه افغانیو په ارزښت ددې اداري د مشر ملا نورالدین ترابي په لاس د دوه پوړیزې ودانۍ د بنسټ ډبره کېښودل شوه. په دې موخه جوړو شویو مراسمو کې د پېښو پر وړاندې چمتووالي وزارت وزیر وویل: په میدان وردګو ولایت کې به ۱۳ میلیونه افغانیو په ارزښت دوه پوړیزه اداري ودانۍ او یو ګدام جوړ او د ۶ میاشتو په موده کې به ګټه اخیستو ته وسپارل شي.

ښاغلي ترابي زیاته کړه ؛ پلان لري چې د هیواد په ۵ نورو ولایتونو کې هم د دېته ورته اداري ... ۳مخ





واشنګټن پر خپلو اروپايي متحدانو توندې نیوکې وکړې

د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ مرستیال جي‌ډي وېنس په مونیخ کنفرانس کې پرخپلو اروپايي متحدانو توندې نیوکې کړې دي. نوموړي اروپايي حکومتونه پر دې تورن کړي، چې ګوندې له خپلو ارزښتونو په شا شوي او د کډوالۍ او د بیان ازادۍ په اړه د رایې ورکوونکو اندېښنې له پامه غورځوي. دا په داسې حال کې ده، چې تمه وه په دې کنفرانس کې د اوکراین د جګړې پای ته رسېدو او دغه راز د اروپا د دفاعي لګښتونو د ډېریدو په اړه خبرې وشي.



کشورهای عربی در حال آماده‌سازی طرحی برای مقابله با طرح جابجایی فلسطینیان اند

بربنیاد گزارش رویترز، تلاش‌های عاجل کشورهای عربی به رهبری عربستان سعودی برای آماده‌سازی طرحی جهت مقابله با طرح امریکا برای بیرون راندن فلسطینیان از سرزمین‌های‌شان آغاز شده است. بربنیاد گزارش، قرار است کشورهای عربستان سعودی، امارات متحده عربی، اردن و مصر در نشستی در جریان ماه‌جاری میلادی در ریاض جزئیات طرح‌شان برای مقابله با طرح امریکا را به بررسی بگیرند. در این گزارش آمده که کشورهای عربی از طرح امریکا برای بیرون راندن فلسطینیان از سرزمین‌های آبایی‌شان متعجب شده‌اند. منابعی که این موارد را به رویترز تایید کرده گفته‌اند که ایجاد صندوق ویژه کشورهای عربی برای بازسازی نوار غزه، از بخش‌های طرح این کشورها برای مقابله با طرح امریکا است. گفتنی‌است که اخیراً رئیس جمهور امریکا خواستار جابجایی فلسطینیان در یکی از کشورهای همسایه فلسطین شده که با واکنش و خشم کشورهای اسلامی روبه‌رو شده است.



کیيف له مسکو سره خبرو ته چمتووالی ښودلی

د اوکراین ولسمشر ولادیمیر زیلینسکي وړمه ورځ اعلان وکړ چې د مسکو او کیف ترمنځ د جګړې د پای ته رسولو په موخه له روسیې سره مستقیمو خبرو اترو ته چمتو دی.

زیلینسکي په جرمني کې د مونیخ امنیتي کنفرانس پر مهال خبریالانو ته ویلي چې دا ګام د سولې د نوښت د فعالولو په چوکاټ کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ لخوا وړاندیز شوی دی.

بلخوا، د امریکا ولسمشر ډونلډ ټرمپ د اوکراین او روسیې له ولسمشرانو سره د جګړې ختمولو په اړه ټیلیفوني خبرې کړې.

